# فقیر شاه مسکین (۱۹۳۹ء - ۲۰۰۲ء) د خپلې اولسي شاعرۍ په ائینه کښې[۱]

# Faqir Shah Miskin in the Light of his Folk Poetry

Mazhar Ahmad [1], Shahbaz Muhammad [2]

Pashto has her rich folklore-Literature. Since 19th century, many scholars attempted to gather it and published. Charbeta, Nemakai, Loba and Robaee etc are included in folklore but its poets are well known. Faqir Shah Maskin is one of them. Though, he devoted himself to the modern ghazal later, but his poetry of the folklore nature still in the minds of the mass.

اولسي شاعري له کومه وخته راروانه ده، ددې څۀ پرېکړے جواب خو هېڅوک نشي ورکولے خو معلومېږي داسې چې دا د انسان نه لرۀ شان کشره ده ـ ځکه چې انسان لا په ښۀ بد پوهه شوے هم نۀ وي خو بیا هم په الله هو اودۀ کېږي ـ

پوهانو شاعري په دوه غټو برخو ویشلې ده ـ یوه اولسي شاعري چې په فولکلور هم یادېږي او بله کتابي شاعري ـ بیا د نړۍ بیلا بیل قامونه اؤ ژبې خپل مخصوص فولکلوري اصناف لري چې په هاغه قام کښې د هغې ځېلې ښې ژورې او مضبوطې وي ـ دغه اولسي اصناف د عام اولس د نفسیاتو سره مطابق وي ـ ددغې په اؤرېدو سره ددغه معاشرې په هر وګړي د هغې اثرات ښکاره وي او هر څوک ئې په خپلو سترګو لیدے شي ـ ددغه فولکلور به پوهانو دا تعریف کوو چې صرف هاغه شعري اصناف وغېره چې د هغې جوړؤنکي معلوم نۀ وي او سینه په سینه د یو نه بل ته منتقل کېږي لکه ټپې، متلونه او داسې نور خو نورو پوهانو په فولکلور کښې هاغه اصناف هم شامل کړۀ، د کومو جوړونکي چې معلوم وي لکه په پښتو کښې چاربیته سره د خپل واړه قسمونو، بګتۍ، رباعي، اولسي

1 Assistant Prof Pashto Department University of Malakand
2 M.phl Scholar University of Malakand

غزل، لوبه او ټپکۍ وغیره - دا اصناف داسې دي چې د دوي شاعران مشهور او معروف دي - هن! خو دومره قدر له وه چې دغه هم په لیکلي صورت کښې ډېر په نظر نه راتلۀ -

د فولکلوري سندرو اؤ نورو اصنافو د راغونډولو په کار اول اول فیرنګیانو په نولسمه صدۍ کښې ګوتې پورې کړې دي(۱) - روستو په شلمه صدۍ کښې بعضې مستشرقینو لکه اېچ جي راورټي، او ډارمسټېټر او داسې نورو - د پښتو ددغه فن پارو د راغونډولو، محفوظولو اؤ خورولو پېل وکړو او د انګرېزۍ یا نورو یوروپي ژبو ترجمې ئې ورسره ملګرې کړې - په وروستو ذکر اصنافو خصوصاً چاربېتو کښې د داسې واقعاتو بیانونه وشول چې د هغې نېټې معلومې او مشهورې وې - د چاربېتو، لوبو، ټپکو رواج په نولسمه او شلمه صدۍ کښې تر اخیرې نیمې پورې بنۀ په جوبن کښې وو - د کلي په حجرو کښې ورته تود هرکلے وئیلے شو او خلق به ورته د شپې د اخیري پاره پورې ناست وو -

عوامي شاعران او د هغوي ډلې د ډېر پخوا نه راروان دي اؤ په قول د پروفېسر محمد نواز طائر:

"په دے جوړ د قدیم الایام نه د باټانو د هغې شاعرۍ بنیاد پریوتې دے چې په مغربي ادب کښې د غنائیه ادب په نوم یادېږي -"(۲)

د ملاکنډ سیمې د اولسي شاعرۍ دې اخیري دور ډېر نامتو شاعران وزېږول - د کلیو د هر لوئ وړوکي په خوله به د هغوي چاربېتې ټپکۍ جاري وې - په دې ګلورینه سیمه کښې د تانې د کلي فقیر شاه مسکین په دغه حواله لوئ نوم وۀ - مشهور په مسکین شاه وۀ نۀ یوازې د هغه په خپل خوږ اواز کښې د هغه د خپل کلام زمزمې خورېدې بلکې داسې وه چې که هغه به موجود وۀ او که نا، خو د هغه کلام به د هغه حاضري یقیني کړې وه -

"د حجرو مېلسونه د دوي د چاربېتو، ټپکو او سندرو نه بغېر نیمګړې وه - "(۳)

وروستو چې دې سیمې ته جدید غزل راورسېدو - ریکارډي باجو (ککوړو) او ټي وي د اولسي شاعرانو دغه کار ودرولو او د دغه مخالفې هوا چپو زیات اولسي شاعران د ځان سره په مخه یوړل خو بیا هم په ځینو شاعرانو کښې الله تعالیٰ ددغه نوي دور دپاره څۀ خوبیانې خوندي کړې وې - ګویا، دا هاغه شاعران وو چې د خپلې سیمې د اولسي شاعرۍ د زنځیر اخیري کړۍ وې او د نوي شاعرۍ

په خصوصي توګه د جدید غزل ورومبۍ کړۍ په دغه حواله د ملاکنډ د سیمې دوه نامې لکه د نمر څلېږي - یو فقیر شاه مسکین او بل رحمت شاه سائل -

اروابناد فقیر شاه مسکین چې جدید شاعرۍ پله راغـﮯ نو په خپله سیمه ئې د پښتو غزل په داسې لوړ بام وخېژولو چې د پښتو لیکوالو او مینه والو ورته د پښتو د میر تقي میر او بابا ـﮯ غزل ملاکنډ خطابونه ورکړۀ -(٤)

فقیر شاه مسکین د تاني بخښې د برت خپلو میانګانو د عزتمندې کورنۍ غړ ـﮯ وۀ - خدا ـﮯ بخښلې پروفېسر محمد نواز طائر د دوي په حقله لیکي:

"زمونږ دا نومو ړ ـﮯ شاعر د شاعرۍ په وهبي صفاتو مامور وۀ - هغه اولسي شاعر وۀ - د کسبي کمال دپاره ئې د چا نه زده کړه نۀ وه کړې، ولې بیا هم هغه باکماله سخنور وۀ - "(٥)

خدا ـﮯ بخښلے شمس الرحمٰن شمس په خپل کتاب The Poets of Malakand کښې د دوي په کلام داسې تبصره کوي:

“Faqir Shah Maskin writes poetry for the last two decades and possesses a vast provision of unpublished pieces in the form of ghazals, plots and sonnets bit his ghazal is of dominant nature and, if collected, a voluminous book will be compiled from it” (٦)

ژباړۀ: فقیر شاه مسکین د تېرو شلو کالو نه شاعري کوي - دوي د غزلو، نظمونو او نورو شعري اصنافو لویه ذخیره لري خو د دوي غزل په ټولو بر د ـﮯ او که چرې راغونډ کړې شي نو لو ـﮯ کتاب ترې جوړ شي -

دوي وړاندې لیکي:

“[Maskeen] is one whose poetry is not less than the application of powerful and beautiful ideas to life and to the question of how to live” (٧)

ژباړه: یعني د زور داره شاعرۍ دا خاوند د ژوند د تېرولو د پاره خپل سپېڅلي خیالات لري"

خداے بخښلے ډاکټر فضل دین خټک په خپله یوه ناچاپه مقاله کښې د دوي د شعري خوبۍ په حقله داسې لیکي:

"مسکین د شاعرۍ غټه خوبي د هغې سادګي ده ـ هغه د چا تقلید نۀ کوي او ځانته خپل یو اسلوب لري ـ البته د هغه تقلید کونکي شته او د هغوي په دې خبره باندې ډېر فخر کوي ـ "(۸)

ډاکټر صېب د دوي همه ګېریت ته داسې اشاره کوي:

"مسکین د زړو روایاتو نه بغاوت نۀ دې کړے ولې بیا هم هغه د رنګ، نسل یا مسلک په چوکاټ کښې ځان نۀ دې بند کړے ـ"(۹)

او خپل منظوم عقیدت ورته په دې الفاظو کښې وړاندې کوي :

له مسکین ښکلې غزلې مې په فکر کښې جوتې خوري
د ضیاء مې نۀ هېرېږي د خلوص هغه جامونه(۱۰)

خداے بخښلے خټک په خپل کتاب "څۀ یادونه څۀ غمونه" کښې د "مسکین شاعري" یو نظم لیکلے دے ـ د هغه نظم نه څو شعرونه وړاندې کولې شي چې د خټک غونډې د پوهه نقاد په نظر کښې د مسکین څومره اوچت مقام وۀ ـ

سور ټیک لکه ځلېږي په جبین د شاعرۍ
رنګونه ښائسته دي د مسکین د شاعرۍ
نازېږي په افکارو د مسکین خپله افکار
ولاړ دي لاس په نام ورته ائین د شاعرۍ

مسکین د سوي زړۀ نه چې لمبې کله راووځي
ګلونه ترې نه جوړ شي په زمین د شاعرۍ
منزل د محبت دې د خیالونو راهګذر
هر خیال ئې د اشعارو دې تزئین د شاعرۍ

هر څو کۀ ژوند زېلے خو شاعر دے بې مثاله
د فکر په دنيا کښې دې تمکين د شاعرۍ(۱۱)

د عوامي شاعرۍ په حقله افضل رضا ليکي:

"دا سندرې د عوامي جذباتو او احساساتو هنداره وي ـ د حقيقت نه ډک دا عوامي تخليقات د انساني جذباتو او احساساتو د فطري عمل په نتيجه کښې په وجود کښې راځي ـ د موضوع په لحاظ عوامي سندرې د ډېرې دلچسپۍ او د مختلفو قسمونو حاملې وي ـ په دې سندرو کښې نه خو يواځې دا چې د ښکلا د خوندونو او د عشق د تريخوالي عکاسي موجود وي يا په کښې تش د حسن و جمال د شوخو او د عشق او محبت ګرمې تذکرې وي او نۀ محض دا چې ګنې د قدرتي مناظرو رنګينۍ او مستۍ پکښې بيانېږي بلکې مونږ ته زمونږ په دې ثقافتي او تهذيبي ورثه کښې د ژوند د هر اړخ کاميابه ترجماني او ښکلې رنګينه عکاسي په لاس راځي ـ "(۱۲)

هم دغه خوبۍ وې چې د خداے بخښلي فقير شاه مسکين سره مينه ئې د هر چا زړۀ ته کوزه کړې وه ـ د هغوي د خوږ اواز او زوردارو چاربېتو او لوبو او ټيکو وغېره دا اثرات وو چې ډېر شاعران ئې شاعرۍ پله راپار کړي وو او د خداے بخښلي فضل دين خټک خبره چې د هغه تقليد ئې کوو ـ دغه تقليد د اولسي شاعرۍ پورې محدود نۀ وۀ ـ په جديد غزل کښې هم ځينې شاګردانو د هغه لاره خپله کړې وه ـ

د نن دور هاغه مشران چې پنځوس کاله وړاندې هلکان وو، هغوي ته اوس هم د مسکين دا لوبه ټکي په ټکي ياده ده:

مرګے لا شته دے تۀ اوس پروت ئې په غفلت کښې
ځان ټينګ کړه په قيامت کښې سبا له دې رفتن دے(۱۳)

يا د هغه دا لوبه:

زړګیه صبر شه نور مۀ کوه خفګان ماته
د نیت پښتو ده شو معلوم واړه یاران ماته
زړګیه صبر(١٤)

په دې لوبه کښې به د اولې مصرعې لفظ "صبر" او د دویمې مصرعې "معلوم" تکرارېدۀ او یو خاص اٰهنګ به ئې پیدا کوو ـ

د مسکین او د هغه وخت د نورو اولسي شاعرانو په کلام کښې به د تکنیکي لحاظه دا فرق جوت وۀ چې د هغه په ردیف قافیه کښې به هېڅ فرق نۀ وۀ ـ حالانکې په اولسي شاعرۍ کښې زیاتره صوتیاتي قافیې پکارولې شي ځکه چې اولسي شاعران اکثر لوستي نۀ وو ـ لاس، خاص او بحث به سره یو ځاے راؤړې شو ـ دا به څۀ عیب نۀ ګڼلې کېدو ـ خو مسکین بیا هم ځان ددغه قسمه کمزورو نه ژغورلے وۀ ـ د هغه اولسي شاعرۍ کۀ یو اړخ ته په خپله لمنه کښې اوچت خیالونه او فلسفیانه سوچ انغښتې وۀ نو په بل لور هغه په دغه تکنیکي کالو هم ښائسته وۀ ـ

د اولسي شاعرۍ په دور کښې که اسانې چاربېتې وئیلې شوې نو پکښې ډېرې ګرانې چاربېتې هم وې ـ دغه قسمه چاربېتو ته به معمه چاربېتې وئیلې شوې ـ دۀ په معمه چاربېتو کښې لکه د مثال په توګه د یوې معمه چاربېتې سر داسې وۀ:

په شپږ بجې سحر د کټ نه شوم اوچت
کاواک شومه روان د خیالي حورې په تکل
کولو مې مزل(١٥)

ددغه قسمه نه یو بل سر داسې وۀ:

په دشت د تصور کښې ما واؤرېد یو اٰواز
عجبه معمه وه لاس و پښې مې رپیدلې
ما نه وو پېژندلې(١٦)

یا دا چاربېته چې د وېنا یو خاص انداز لري:

اور د مینې مې دننه په زړهٔ زور وکړلو
ما نه لرې شه زما د سره تاؤ خېژي(۱۷)

بګتۍ یا بګتۍ چاربېته، مسکین لالا به بګتۍ د چاربېتې یو خاص قسم ګڼلو، خپل خوند رنګ لري - د یوې بګتۍ چاربېتې سر داسې وهٔ:

زړهٔ په قرار فریاد ماته هر زمان مهٔ کړه
په جفادار د وفادار چرې ګمان مهٔ کړه
زړګیه صبر (۱۸)

مسکین في البدیهه شاعر وهٔ - د هاغه زمانې د دود دستور مطابق ئې ښې مقابلې کړې وې او ګټلې ئې هم وې - د مسکین لالا په ډله کښې د هغهٔ مشر ورور میا ګوهر شاه او عالم زېب شالدا شامل وو - دوي دواړه ښهٔ چاربېتي شاعران وو خو په دغسې موقعه به ئې مسکین ور وړاندې کوو - هغهٔ له خدائےتعالیٰ داسې تېز فکر ورکړے وهٔ چې په یوه مخه به ئې د بل مخالف شاعر په کېښودي سر اوږده چاربېته ووئیله - ښاغلے باچا شیرین وصال په خپل قلمي کتاب "د تاڼې ادبي تاریخ" کښې د خپل مشر ورور شېر مالک توردا او مسکین هاغه واقعه رانقل کړې ده چې دوي دواړه په یو سائیکل اله ډنډه ته روان وو - مسکین سائیکل چلوؤ او توردا ورسره په کېرئیر ناست وهٔ - توردا ورته دا سر ایښے وهٔ -

چې شپېلۍ پوکړي اسرافیل شي به راپورته نر زنان
روستو بیا نهٔ کېږي اپیل پوره توښه یوسه د ځان(۱۹)

مسکین ورته بندونه وئیل او شاته توردا لیکل او دغه رنګ د اله ډنډه پورې چاربېته پوره شوې وه - په دغه چاربېته کښې مسکین د خپلې ډلې شاعران ملګري یاد کړي دي - تاریخي حېثیت لري -

د مسکین د نیمکو نه بغېر به هم مېلس نیمګړے وهٔ - د هغه دا نیمکۍ چې کومې مصرعې لري په هغوي کښې هره ټپه په جدا جدا ګل ده چې د خپل محبوب سره ئې د تشبیه په جوړ راوړے دے - اوږده نیکمۍ ده - د نمونې په توګه ئې سر او څو مصرعې را اخلو:

ګرځم بیماره پرسان له راشه
دومره مهٔ کوه ظلمونه ستمګاره
ګرځم بیماره
زما اشنا ګل د غانټول دے
مینه ئې شپول دے پکښې زهٔ ګېر شوے یمه
زما اشنا ګل د ورخاړي
بدې رانغاړي پرزولو له راځینه
زما اشنا ګل د کوړي
زما ئې پرېکړې د زړهٔ جرې مړ به شمه
زما اشنا ګل د پلوسې
دا لوسې پوسې د ماشوم په شان کوینه (۲۰)

د مسکین لالا دا لوبه چې په ردیف به ئې د تمبل نه پوره زور ویستے شو:

ستا د مینې خیال مل وي دم په دم زما
لړ مې خواله راشه بې وفا صنم زما (۲۱)

یا دا لوبه چې:

زهٔ دې کوڅې له یم راغلے منت بار
اخلے ولې زما ازار (۲۲)

د دهٔ دا لوبه د دې سیمې نزدې نزدې هر مشر کشر ته یاده وه:

شه خبردار مې در ته ووېې څو څو ځله
حیا وساته خپله را نهٔ شې په دې لار

کسر ئې پرې داسې خېژولې وهٔ، چې:

په ما مسکین باندې بخته وژړېدله
حیا وساته خپله رانۀ شې په دې لار(۲۳)

د مسکین مصرئیزې سندرې چې کوم خوږلت لري، هغه پخپله خپل مثال دي:

غم دے، غم مې په زړګي خوشحالي لاړه
ځانته سوچ اخیستے یمه، غم دے(۲٤)

په دې مصرئیزه کښې همه مصرعې د سکول او د هغې د ماحول متعلق دي ـ دا نیمګړې ئې هم ثاني نۀ لري:

دا غمونه فریادونه
زما نه نۀ شي د بې ننګه محبتونه
یره مئین ورباندې نۀ وے
څۀ له به زۀ وے سینه سوے
نۀ خپلېږي پردي زړونه
زما نه نۀ شي د بې ننګه محبتونه(۲۵)

ددۀ رباعیانې هم د مېلسونو ښائست وې لکه د مثال په توګه دا رباعي:

مرګه! تا مې خبر وانۀ خیست چې ولې
نۀ د ژوند په خوشحالو باندې پوهېږم

هاغه ګل چې به زما په غېږ کښې پروت وۀ
اوس ئې ورو ورو په ازغو باندې پوهېږم

د وصال سیند کۀ دې هر څومره موجزن دے
زۀ ئې کله په چپو باندې پوهېږم(۲٦)

یا دا چې:

کوم کمال لره اتبار دے کۀ پوهېږے
د زوال در پسې وار دے کۀ پوهېږے

زۀ مسکین د یارئ حال وئیلې نۀ شم
زوره ور سرے مې یار دے کۀ پوهېږے(۲۷)

مسکین چې لکه څۀ رنګه خپل تخلص مسکین اختیار کړے وۀ ـ دغه رنګ هغه مسکین طبعه هم وۀ ـ په شاعرئ کښې چې د هغه کوم مقام وۀ، شاید چې هغۀ له هغه چا نۀ وۀ ورکړے ـ څکه خو پروفېسر غلام یوسف یوسف دغه ګیله په دې الفاظو کړې وه:

"واقعي چې مسکین، مسکین دے ـ که چرې مسکین نۀ وے نو دا قیمتي لال به چا خو د ایرو نه راویستلے وۀ ـ ولې غریبي بده بلا ده ـ "(۲۸)

## ماخذونه


۱: j. a. cuddon dictionary of literary terms and literary theory, Panguin Books, London, 1996, P 346

۲: طائر، محمد نواز، پروفېسر، روهي ادب، پښتو اکېډمي پېښور یونېورسټي، پېښور، ۱۹۸۶، ص ۱۰۴

۳: محمد، شهباز، سواستو، EPS سېدو شریف، سوت، اپریل ۲۰۱۱ء، ص ۱۰۹

۴: وصال، بادشاه شېرین، د پښتو میر تقي میر، هېواد، ۴ جنوري تا ۲۱ جنوري، ۱۹۹۰ء، ص ۱

۵: محمد، شهباز، د فقیر شاه مسکین ژوند او فن، ناچاپه مقاله، ص ۱۲

۶: Shams, Shamsur Rahman, The Poet of Malakand, P 114

۷: Ibid, P 112

۸: محمد، شهباز، د فضل دین خټک مقاله، د فقیر مسکین ژبلے ژوند، ص۲

۹: هم دغه، ص۴

۱۰: خټک، فضل دین، درګه، ادبي او ثقافتي ملګري مرکزي دفتر، پېښور، جنوري ۱۹۹۰ء، ص ۱۰۱

۱۱: خټک، فضل دین، څۀ یادونه څۀ غمونه، پښتانه لیکوال پښتونخوا،

۱۲: رضا، افضل، پروفېسر، د پښتو عوامي ادب، په سرحدي صوبه کښې ورمبے لساني او ثقافتي کانفرنس، پېښور، ۱۹۸۶ء، ص ۲۱۹، ۲۲۰

۱۳: محمد، شهباز، اولسي شاعري فقیر شاه مسکین، قلمي، ص ۹

۱۴: هم دغه، ص ۹
۱۵: هم دغه، ص ۱۴
۱۶: هم دغه، ص ۱۹
۱۷: هم دغه، ص ۱۷
۱۸: هم دغه، ص ۲۰
۱۹: هم دغه، ص ۲۴
۲۰: هم دغه، ص ۱۲
۲۱: هم دغه، ص ۲۸
۲۲: هم دغه، ص ۲۹
۲۳: هم دغه، ص ۳۵
۲۴: هم دغه، ص ۴۰
۲۵: هم دغه، ص ۴۲
۲۶: هم دغه، ص ۴۴
۲۷: هم دغه، ص ۷۹
۲۸: یوسف، غلام یوسف، پروفیسر، مقاله فقیرشاه مسکین، پښتو، پښتو اکېډمي، پېښور، اکتوبر ۱۹۸۹ء، ص ۴۰